خوشحال آصفي

۲۰۱۸/۱۲/۱۵

# د سولې مشورتي بورډ؛

## که د منتقدينو خوله بندول

## او د حکومت د اوږو پوزه؟

وروسته له هغې چې زلمي خليلزاد له افغان حکومت او وسله والو طالبانو وغوښتل چې د سولې خبرو لپاره خپل مرکچي پلاوي مشخص کړي؛ بلاخره له مشورو وروسته افغان حکومت د سولې د عالي مشورتي بورډ د غړو نومونه هم اعلان کړل. په دې اړه د ملي امنيت شورا لخوا خپره شوې خبرپاڼه کې ويل شوي، چې د بورډ په غونډو کې به د حکومت پر مشرتابه او ځينو لوړپوړو چارواکو سربېره د ملي شورا د دواړو جرګو مشران، د ديني عالمانو د شورا مشر، د سولې د عالي شورا د دارالانشا مشر او يو شمېر جهادي او سياسي مشران ګډون کوي.
دغه راز د سولې په مشروتي بورډ کې له حکومته دباندې کسانو کې پخواني ولسمشر حامد کرزی، صبغت الله مجددي، ګلبدين حکمتيار، عبدالرب رسول سياف، يونس قانوني، سيد حامد ګيلاني، محمد کريم خليلي، صلاح الدين رباني، سيد منصور نادري، شيخ اصف محسني، عطا محمد نور، عبدالهادي ارغنديوال، حاجي دين محمد، صديقه بلخي، امنه افضلي، محمد اسماعيل خان او امرالله صالح هم شامل دي.

### د سولې عالي مشورتي بورډ رامنځته کول د څه لپاره؟

که څه هم د سولې عالي مشورتي بورډ رامنځته کول ظاهراً د زلمي خليلزاد د غوښتني پر اساس ترسره شوي، يا که څه هم حکومت د دغه مشورتي بورډ رامنځته کول له طالبانو سره د سولې د خبرو په هدف له سياسي، جهادي، ټولنيزو شخصيتونو او د ټولني له بېلابېلو پرګنو سره د سلامشورو له لارې د تلپاتي سولې او ملي تفاهم د رامنځته کېدل يادوي؛ خو په حقيقت کې د سولې عالي مشورتي بورډ د رامنځته کولو تر شاه د ملي يووالي حکومت نور لوی اهداف نغښتي دي:

### 1. د ملي يووالي حکومت ته د اوږو پوزه ايښودل:

له هغې ورځې چې د وسله والو طالبانو او د امريکايي چارواکو تر منځ د افغان سولې په تړاو ليده کاته پيل شوي او خلکو سره دا ذهنيت پيدا شوی چې ګويا امريکا او طالبان به د افغان جنګ د پايته رسولو په تړاو توافق ته ورسيږي؛ په کور دننه خلک او سياسيون له دې امله په حکومت نيوکه کوي چې د ملي يووالي حکومت له وسله والو طالبانوسره په خبرو کې شاته پاتي شوی دی او د خبرو ټول واک له امريکا سره دی. دا په داسې حال کې ده چې د ملي يووالي حکومت تل له طالبانو سره د خبرو لپاره بين الافغاني خبرې د سرې کرښې په توګه مطرح کوي خو طالبانو تل له حکومت سره خبرې رد او مستقيماً له امريکا سره په خبرو يې ټينګار کړی دی.
اوس د دې لپاره چې حکومت ځان ته اوږو پوزه کيږدي چې ګويا د سولې خبرې د دوی تر نظارت او له دوی سره په همغږۍ ترسره کيږي؛ د سولې مشورتي بورډ يې رامنځته کړ. په دې سره به د افغان حکومت هغه خبره بيرته په ځای شي چې له طالبانو سره په بين الافغاني خبرو يې ټينګار کاوه. البته له طالبانو سره د خبرو واک اوس هم د امريکا په لاس کې دی او حکومت هغه وخت خبرېږي کله چې د زلمي خليلزاد او طالبانو تر منځ کتل ترسره شي. د سولې مشورتي بورډ به هم تش يو سمبوليکه بڼه ولري خو د خبرو واک به مستقيما له امريکا سره وي.

### 2. د حکومتي منتقدينو خولې بندول:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ټول ولس شاهد دی چې د پخواني ولسمشر حامد کرزي په ګډون ټول مجاهدين او د ايتلاف غړي د حکومت لخوا د سولې په روانو هڅو نيوکې کوي چې ګويا کار ځانګړې طرحه نه لري. په ځانګړې توګه د مجاهدينو له ادرسه پر حکومت له دې امله نيوکې کيږي چې ګويا حکومت مجاهدين د سياست له صحنې ليرې کړي او په سيستماتيک ډول د حکومت له اډانې مجاهدين اوباسي. اوس د دې لپاره چې حکومت د خپلو منتقدينو په ځانګړې توګه د مجاهدينو خولې بندې کړي؛ د سولې مشورتي بورډ يې رامنځته او مجاهدينو ته يې په کې ځای ورکړ.

## د سولې عالي مشورتي بورډ ګټې:

که څه هم د سولې عالي مشورتي بورډ رامنځته کيدل تر ډيره سياسي بڼه لري خو بيا هم سولې پروسې او افغان حکومت ته مستقيم او غير مستقيمه ګټه رسوي.
لومړی؛ د سولې شورا لغوه کېدو ته زمينه برابرول: له کله چې د سولې عالي شورا رامنځته شوې نو له کاره يې ولسونه خوښ نه دي او وخت ناوخت يې د لغوه کولو غوښتنه کوي خو حکومت د دې له امله چې که دا شورا لغوه کړي نو ولس ته به د دغې شورا د لاسته راوړنو او د دوی د مصارفو په اړه څه ځواب ورکوي؛ په دې نه توانيده چې دغه شورا لغوه کړي. اوس چې د سولې مشورتي بورډ رامنځته شو چې د دغې شورا شتون تر سوال لاندې راځي او په ضمن کې حکومت ته هم زمينه په لاس ورځي چې دغه شورا لغوه کړي.
دويم؛ په کور دننه د سولې داخلي مخالفينو خولې بندول: کله چې د زلمي خليزاد لخوا له وسله والو طالبانو سره څو پړاوه پسې ناستې ترسره شوې نو هغه کړی چې په سوله کې خپله سياسي بقا په خطر کې ويني؛ په لړزه شول او په يو نه يو ډول يې د خليلزاد د هڅو د سبوتاژ هڅې کولې. زلمی خليلزاد چې له حقيقته اګاه شو نو له احزابو او سياسيونو سره يې هم ليده کاته پيل کړل، په پای کې خليلزاد له سياسيونو سره دې موافقې ته ورسيد چې تاسې ته به د سولې مشورتي بورډ په نوم سياسي امتياز درکړل شي. بلاخره همداسې وشول او د سولې په مشورتي بورډ کې هم همداسې خلکو ته ځای ورکړل شو چې پخوا يې د سولې له پروسې سره مخالفت کاوه.
دا چې دا مشورتي بورډ به وتوانيږي چې له طالبانو سره خبرې بريالۍ کړي، يا آيا طالبان به له دغې مشورتي بورډ سره خبرو ته حاضر شي؛ هغه پوښتنې دي چې ډېر ژر به وخت ورته ځواب ورکړي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ